# له افغانستان څخه ووځئ!!!

د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ پر ۲۹مه الجزیرې خبرې سرچینې یو خبر خپور کړ، چې ځینو افغان مېرمنو له امریکا څخه په دغو الفاظو غوښتنه وکړه: «اوس نو موږ مه پرېږدئ». دا غوښتنه د سولې روانو خبرو او د طالبانو سره د امریکا د همغږۍ په تړاو شوې. په دې راپور کې مېرمنو د طالبانو د راستنېدو په تړاو یاد غږ پورته کړی او وېره یې څرګنده کړې چې ژوند به یې یو ځل بیا له ناورین او تیارو سره مخ شي. په کوچنیوالې کې د کم عمره نجونو ودونه، د مېرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی، د جنسیت نا برابري، له تعلیم څخه محرومیت او شخصي ازادي، دا ټول هغه څه دي چې په دې راپور کې پرې ټینګار شوی.

خو ایا دا ټول په ریښتیا سره د اندېښنې وړ دي؟ ایا دا دلیل شته، چې پر افغانستان د امریکا له یرغل راهیسې دې د تاوتریخوالي، له زده کړو څخه د مېرمنو د محرومیت او د جنسیت د نابرابرۍ کچه دې راکمه شوې وي؟ ایا امریکا افغان مېرمنېو ته هغه کوم عدالت او عزت ورکړ، چې پخوا یې نه درلود؟

تر ټولو لومړی باید وویل شي: دا څرګنده ده چې په افغانستان کې سیاسي وضعیت یوه غولونکې لوبه ده او دا لوبه د امریکا لخوا طرحه شوې. د امریکا متحده ایالتونه د سولې بهیر له خپل ادرسه خلکو ته وړاندې کوي، څه یې چې زړه وغواړي همغه کوي یا له چا سره سوله کوي یا یې نه کوي. ښه بېلګه یې د روان کال د سپټمبر پر ۷ مه د ډونالډ ټرمپ له څرګندونو څخه په ډاګه کېږي. هغه وویل: «له طالبانو سره د سولې خبرې اترې د امریکایي سرتېري د وژنې له امله لغوه کوي.» دغه سرتیری په کابل کې د یو ځان مرګي برید په پایله کې ووژل شو. دغه ټګماران او جنایتکاران په نړیواله کچه د سیکې په څېر دوه مخي دي، چېرې یې چې ګټه خپل مخ همغه لوري ته ګرځوي.

دویم، د اشرف غني دوه مخی حکومت د مېرمنو د اساسي حقونو د ترپښو لاندې کېدو په اړه هېڅ ډول اندېښنه نه لري. څه شی چې دوی ته ګټه رسوي، هغه له مېرمنو څخه د سولې او ډیموکراسۍ د پرمختګ لپاره د یوې وسیلې په توګه کار اخیستل دي. په دې اړه ډېرې بېلګې شته چې افغان مېرمنې له وحشت سر مخ دي، ځکه افغان حکومت یې د حقونو په ساتنه کې پاتې راغلی او افغانستان د مېرمنو لپاره تر ټولو ناوړه هېواد دی. ملګري ملتونه د ۲۰۱۸م کال په یوه راپور کې وایي، چې افغان مېرمنې له چنسي ځورونو سره مخ دي او حتا په دې اړه له شکایت کولو څخه هم وېره لري. په ډېرو قضیو کې دوی د هغو ادعاوو په تړاو تورنې ګرځي، چې دوی پکې زیانمنې شوې دي.

دریم، د ملګرو ملتونو د جنسیتي نابرابرۍ په نوملړ کې افغانستان د ۱۸۹ هېوادونو له ډلې ۱۶۸ هېواد دی، چې مېرمنې پکې په لویه کچه د تبعیض له امله ځورېږي. د مېرمنو پر وړاندې تبعیض او جنسي ځورونه د حکومت په

اډانه کې خپله حکومتي چارواکي ترسره کوي. هو! په رښتيا سره هم افغان مېرمنې په افغان حکومت کې کوم ځای نه لري. د جنسي ځورونې رسوايي هغه مسله وه، چې حکومتي چارواکو به له افغان مېرمنو څخه د دندو په بدل کې جنسي غوښتنه کوله. د بېلګې په توګه، د اشرف غني پخواني امنيتي سلاکار ادعا وکړه: «چې ځينې وزيران، د ارګ سلاکاران او د پالمان غړي په بدلمنۍ کې لاس لري.» ځينې مېرمنې «د جنسي کړنو په تړاو» د ټاکنو ګټونکې نومول شوې وې. اوس په ډاګه شوه چې ډېموکراسي څه ډول د افغان مېرمنو واقعي درناوی کوي.

څلورم، د ملګرو ملتونو د يو خبر له مخې د افغانستان د جزايي او جنايي چارواکو له لوري تراوسه د مېرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي په قضيو کې ناغېړي او بې پروايي کېږي او دا قضيې ورځ تر بلې مخ په ډېريدو دي. د بشر حقونو د څار ادارې د راپو پر بنسټ، نږدې ۸۷ سلنه افغان مېرمنې په ژوند کې له ستونزو او ځورونو سره مخ دي. د نړيوالو حقونو د ادارې د څېړنې له مخې له هرو ۱۰ مېرمنو څخه ۹ مېرمنې د جنسي تاوتريخوالي ښکار ګرځېدلې دي. دې ته ورته د ۲۰۱۴م کال سرشمېرنې ښيې چې ۸۰ سلنه ځان وژنې مېرمنو کړې دي او په دې لړ کې افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی، چې د مېرمنو په تړاو د دغو پېښو کچه پکې ډېره ده.

پنځم، لا تراوسه هم د افغانستان ښوونيز نظام وروسته پاتې او کيفيت يې ټيټ دی. د يو اټکل له مخې د افغان مېرمنو دوه برخې يې په ښوونځيو کې ګډون نه شي کولی او ۸۷ سلنه مېرمنې بې سواده دي.

دې ټولو لاملونو ته په کتو سره موږ وينو چې امريکا او د هغوی مسخره حکومت د تېر ۱۸ کلن اشغال په ترڅ کې د افغان مېرمنو د واقعي حقونو په ساتنه او عدالت کې پاتې راغلي. د افغان مېرمنو هغه عزت چې تل يې دوی هيله لري، د دغه بشري نظام په لاس نه شي راستنېدلی. دا اصلي ترهګر بايد د خلکو له ژوند سره لوبې ختمې کړي او له مېرمنو څخه د سولې د يوې وسيلې په توګه کار وانه خلي.

**اې درنو او باعزته افغان مېرمنو!** راپاڅئ او د مکارې ډېموکراسۍ پر وړاندې خپل ږغ پورته کړئ! د خپلو لوڼو او لمسيانو لپاره راپاڅئ. امريکا ته اجازه مه ورکوئ چې د دوی حقونه په وحشي توګه تر پښو لاندې کړي او د دوی لپاره په قوت سره راپورته شئ. ستاسو او ستاسو د خويندو لپار رښتنی عدالت هغه وخت راتلی شي، چې هراړخيز اسلامي نظام جوړ شي، هغه مهال به اړتيا نه وي چې تاسو د جنسيت د مساواتو لپار مبارزه وکړئ او هره مېرمن به په ټولنه کې له ځانګړو امتيازاتو څخه برخمنه وي. د باکيفيته ښوونيز نظام پر بنسټ به له تاسو څخه هره يوه لوړو زدکړو ته لار پيدا کولی شي. د سوچه اسلامي جزايي نظام له مخې به ستاسو هره يوه له تاوتريخوالي څخه په امن کې وي، ځکه همدا نظام دی چې د هر وګړي ژوند او عزت په کې نغښتی دی. د دغه نظام پر بنسټ به اړتيا نه وي چې تاسو په سياست کې د برخې اخيستنې په پلمه خپل عزت و پلورئ او له لاسه يې ورکړئ. همدا يې وخت دی چې هر مسلمان د امت چارو ته خپل پام راواړوي.

**اې باعزته افغانو خويندو!** راپاڅئ او په يوه خوله د امريکا او د هغوی له ملګرو څخه وغواړئ: له افغانستان څخه ووځئ!!!

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**امانه عابد**